ليکوال: يورګين واګنر
ژباړونکی: شريف بهاند

# د نړيوال کيدو په پېر (عصر) کې
## د امريکا د متحدو ايالتونو امپراتوري

## لومړی برخه

**د يوويشتمې پيړی له پاره د بوش دکترين:**

په کال ۱۹۴۷ کې جورج کنان د "آقای ايکس" تر مستعار نامه لاندې، د شوروی اتحاد د پراختيا د مخنيوي په اړه سياسي اصول، د فارين آفيرز Foreign Affairs په مجله کې خپاره کړل، له هماغه وخت څخه راپدې خوا د امريکا د متحدو ايالتونو بهرنی سياست په بنسټيزه توګه، سيال ته د محدوديتونو د رامنځته کولو ستراتيژی ته ځانګړې شو[۱]. دې واقعيت ته په پام سره، چې دغه ستراتيژي د کومې ځانګړې انساندوستي او نړی ليد پر بنسټ ولاړه نه وه، بلکې د هغې بنسټ، ځواک غوښتنه وه، د نوموړي په ليکنې کې په روښانه ټکو سره راغلي: " متحده ايالتونه د نړی د شتمنی پنځوس په سلو کې په واک کې لری. خو د نړی د وګړو يوازې ۳ ، ۶ په سلو کې په دغه هيواد کې ژوند کوي. په داسې يو حالت کې، کيدی شي موږ په جبر سره د نورو له رخې (حسادت) او غوسې سره مخامخ شو. زموږ بنسټيزه دنده، ان په دغه عصر کې، چې موږ يې په مخ کې لرو [...] د دغه نا برابر حالت ساتنه ده. [...] موږ بايد د ناروښانو او غير واقعي موخو، د ساری په توګه، د بشر حقوق، د ژوند د کچې لوړول او د ولسواکی د پراختيا له ويلو څخه لاس واخلو. ډير ژر به هغه وخت راورسيږي، چې د ځواک په اړه فکر کول، زموږ د کړو وړو بنسټ وګرځي. که په دغه وخت کې زموږ سياستونه هر څومره لږ د ايدياليستي شعارونو تر اغيز لاندې راشي، ښه به وي"[۲]. د دا ډول تفکر پايله دا شوه، چې نور نو بنسټيزه موخه نه يوازې د شوروی اتحاد محدودول، بلکې په سره جګړه کې د بشپړه برياوو ترلاسه کول وو. د دې کار له پاره اړينه بريښيده، چې ستر پانګوال نظام ته پراختيا ورکړل او د متحدو ايالتونو له پوښتنې پرته برترې په لويديځه نړی کې تثبيت کړی شي.

نو څکه د سړې جګړې د پړاو له پايته رسيدو وروسته او د نړی د يوازينې زبر ځواک په توګه د متحدو ايالتونو تثبيت، د يو بل دکترين Doktrin له پاره، چې وکولی شي، د مخکينې ستراتيژی ځای ونيسي، لټون پيل شو. هغه څه چې " د امريکا د متحدو ايالتونو د ملی امنيت د ستراتيژی NSS " تر سرليک لاندې د ۲۰۰۲ کال د سپتمبر په شلمه د دغه هيواد د ولسمشر جورج بوش له خوا وړاندې او د بوش د دکترينو په نامه نامتو شوی، کيدی شي، دغه تشه ډکه کړی" [۳]. جورج بوش د دغې ستراتيژی په اعلام سره د هغو کسانو سلا مشورې ومنلې، چې د متحدو ايالتونو نړيواله رهبری [...] د پوځې ځواک او اخلاقی ارزښتونو د روښانتيا پر بنسټ غواړي او په دې باور دي، چې د يوه ټينګ نړيوال نظام له پاره دا تر ټولو ښه تضمين دئ"[۴]. د دا ډول نړی ليد پلي کونکي هغه کسان دي، چې دوي ته نوي محافظه کاران ويل شوي او د متحدو ايالتونو د ولسمشر د مرستيال ديک چينی تر مشری لاندې او د دفاع د وزير د مرستيال پاول ولفوويچ [اوس د نړيوال بانک د مشر په توګه ګمارل شوی دئ: ژباړونکی]، د متحدو ايالتونو اوسنی بهرنی سياست څه نا څه په انحصاري توګه تر خپل کنترول لاندی لري. دوي د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د يوولسمې له پيښې څخه په بريالی توګه، د متحدو ايالتونو د بهرني سياست د ستراتيژی د وړاندې کولو له پاره، چې بنسټيزه کړنلاره يې ډيره موده پخوا طرحه شوې وه، ګټه پورته کړه. دغه ستراتيژي د بوش د دکترينو تر عنوان لاندې ټوليزو افکارو ته وړاندې او د دولت په رسمي سياست بدله شوه.

د متحدو ايالتونو د ملی امنيت ستراتيژي بايد «د سړې جګړې له پايته رسيدو وروسته د دغه هيواد د ځواک غوښتنې د تر ټولو افراطي بڼې» په توګه وپيژندل شي [۵]. ټاکونکی ټکی دا دئ، چې د متحدو ايالتونو بهرني سياست، د موخې له پلوه هيڅ بدلون نه دی موندلی او يوازې په نړی کې د ځواکونو د اندول له نوی رامنځته شوي وضعې سره سمون ورکړل شوی دئ. دا ټکی د نوي ستراتيژې له محتوياتو څخه په روښانه توګه څرګنديږي. "د بوش دکترين د هغه دود دوام دئ، چې د مونرويه او ترومن په دکترينو کې هم تر سترګو کيږي" [۶]. نو څکه راينر ريلينګ Rainer Rilling دا پايله تر لاسه کوی: "د دې ستراتيژی بنسټيزه موخه د ترهګرو ډلو او هيوادونو په وړاندې مبارزه نه، بلکې د متحدو ايالتونو او پاتې نړی تر منځه د نابرابری ساتنه او د هغې زياتوالي او همدارنګه د امريکايي واکمنی بشپړه پراختيا ده" [۷].

د ځواک دغه سياست پر دوو ستنو ولاړ دئ:" پوځي ځواکمنتيا نه شی کيدی بې له اقتصادي برتری پاينت ومومي او د پانګه والی نظام تر شرايطو لاندې اقتصادي برتري په خپل ذات کې ناپايداره ده" [۸]. نو اړينه بريښي، چې اقتصادي او پوځي ځواکونه يو د بل په خدمت کې وي. له همدې امله د متحدو ايالتونو پر سياست باندې نيوه که بايد همدې ټکی ته مخامخ وي. د ويليام تاب William Tabb په وينا: "موږ د متحدو ايالتونو د امپرياليستي سياست

په وړاندې د مقاومت له پاره باید نوښت بیرته تر لاسه کړو او دا کار یوازې [...] د ټولنیزو نابرابریو، چې د نړیوال کیدو له امله رامنځته شوي، په وړاندې د مبارزې له لارې د پلي کیدو وړ نه دئ، بلکې اړینه بریښي، څو وښودل شي، چې د پانګه والی نظام پوځي او اقتصادي ځانګړتیاوې، د یوې سکې دوه مخه دي" [۹].

د همدې ادعا پر بنسټ، په راتلونکو کرښو کې د بوش دکترین په انتقادي توګه ارزول کیږي او هغه به د متحدو ایالتونو د نړیوالي ستراتیژۍ په رڼا کې وڅیړل شي. دغه راز د دغه هیواد ګټې د عراق په وړاندې په یرغلیزه جګړه کې هم د همدې لید له مخې تر څیړنې لاندې نیول کیږي او په پای کې به د دغه هیواد د بهرني سیاست ټولیزه طرحه تر کره کتنې لاندې ونیول شي.

**د سیال د محدودولو له سیاست څخه نیولی بیا**
**د متحدو ایالتونو تر بیرغ لاندې نړیواله سوله:**

نوی محافظه کار چارلز کراوتهامر Charles Krauthammer، چې د ورځپانو او مجلو له پاره لیکني کوی، [د تیري پیرۍ] په وروستي لسیزې کې اعلام وکړ، چې د یووزرۍ ځواک پیر رارسیدلی او په دې توګه یې په رسنیو کې د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرني سیاست د کرښلارې په اړه خبرو اترو ته لمن ووهله. نوموړي په دې باور و، چې د شوروی اتحاد په دړې وړې کیدو او د نړۍ د یوازینی ځواک مقام ته د متحدو ایالتونو په لوړیدو سره، دغه هیواد داسی یو ځواک ترلاسه کړی، چې ساری یې د تاریخ په بهیر کې نه دی لیدل شوي او متحده ایالتونه کولی شي، د دغه ځواک پر بنسټ د نړیوالي ټولني جوړښت ته داسی بڼه ورکړی، چې د دوی له ګټو سره سمون ولري. د همدې لامَل پر بنسټ او له ټولو شونتیاوو څخه په ګټې اخیستني سره، نه یوازې اوسنی حالت وساتل، بلکې هغه ته باید پراختیا هم ورکړ شي [۱۰]. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمي له بریدونو څخه وروسته د دا ډول دریځ د خاوندانو اغیز لا نور هم زیات شو. دوي اعلام وکړ، چې یوازې تر سخت پوځي کنترول او د نړۍ په نورو برخو کې د سولې په رامنځته کولو سره، کیدای شي د نړیوالي ګډوډۍ په وړاندې له امریکایي وګړو څخه ساتنه وشي [۱۱]. د امریکایي امپراتوری جوړول او له دې سره جوخت د یوې امپراتوریزې ستراتیژۍ پلي کول، اوس د متحدو ایالتونو د بهرني سیاست د مهمو سیاستوالو له خوا د دغه هیواد د امنیت او سوکالي د اړین شرط په توګه تبلیغیږي [۱۲].

سربیره پر دې د لوړو زده کړو په چاپیریال کې هم له دې لید څخه پلوي مخ په زیاتیدو دئ، چې د متحدو ایالتونو د هژموني ټینګښت نه یوازې د دغه هیواد، بلکې د نړیوالي ټولني په ګټه دئ. د دغه لید د ثبوت له پاره په لنډه توګه دا ډول دلیل وړاندې کیږي: د متحدو ایالتونو تر مشرۍ لاندې یو وزری نظام د پوځي کرکیچونو د مخنیوي ترټولو ښې شونتیاوې رامنځته کوي. که داسی نه وي، نو د هیوادونو تر منځه د ګټو پر سر د پر له پسي ټوپیرونو پر بنسټ، د پوځي شخړو ګواښ او همدارنګه د هغوي [د ګټو] پر بنسټ نوې مخالفي ډلې رامنځته کیږي. که یوازې یو هیواد، د بیلګې په توګه متحده ایالتونه، د داسی یوه ځواک خاوند وي، چې بل هیواد پر هغه باندې یرغل و نه شي کړی، د ګټو پر سر دغه ټوپیرونه به په سوله بیزه توګه (د متحدو ایالتونو له خوښي سره سم) حل او په دې توګه به له جګړو څخه مخنیوي وشي.

په حقیقت کې دا د پوښتني وړ نه ده، چې متحده ایالتونه اوسمهال د نړیوال نظام مخکښ ځواک دئ. خو د متحده ایالتونو دغه دریځ، په تیره د نابرابرې اقتصادي ودې له امله، په پر له پسی توګه د احتمالي سیالانو له خوا تر ګواښ لاندې دئ. دغه سیالان به له خپلو ټولو شونتیاوو څخه په ګټې اخیستني سره هڅه وکړي، د متحدو ایالتونو ځای ترلاسه کړی. د ځواک هر ډول پرتلیز بدلون، نه یوازې دا چې د متحدو ایالتونو په زیان دئ او هغه تر ګواښ لاندې راولي، بلکې په ټولیزه توګه به په نړیوال نظام کې د جګړې ګواښ هم لا زیات شي. نو د همدې لامَل پر بنسټ، اړینه بریښي، چې تر هر ډول شرایطو لاندې له هغې څخه مخنیوي وشي.

دغه لید د متحدو ایالتونو د پر له پسي اقتصادي او پوځي مخکښ دریځ د ټینګښت او پراختیا غوښتونکی دئ او همدارنګه د دغه هیواد تر بیرغ لاندې په سولې او د امپراتورۍ په جوړولو پایته رسیږي او هغه ته قانونیت وربخښي. په عین وخت کې متحده ایالتونه هڅه کوي، څو هر اړخیز ځان غوښتونکی سیاست د نړیوال سیاست د عامل په توګه د عمل په ډګر کې پلي کړي او له نورو هیوادونو څخه هم د هغه د پلي کولو غوښتنه کوي [۱۳].

دا ډول اکادیمیک تفسیر، چې د متحدو ایالتونو د دایمي هژموني غوښتونکی دئ، د لومړی ځل له پاره په کال ۱۹۹۲ کې د "دفاعي طرحې لارښود" په نامه په رسنیو کې هم خپور شو. دغه لاسوند د دفاع د پخواني وزیر دیک چینی تر نظر لاندې تدوین شوی او اټکل کیده، چې په راتلونکو څلورو کلونو کې به د متحدو ایالتونو د بهرني سیاست په توګه له هغه څخه ګټه واخیستل شي. د دغه لاسوند په تنظیمولو کې له پاول ولفوویڅ سربیره زلمی خلیل زاد او لویس لیبی هم ګډون درلود، چې دوي دواړه د جورج بوش په اوسنی اداره کې مهمی دندې لري [۱۴]. همدارنګه ویل کیږي: "نور ملتونه او احتمالي ټلوالي شته دي، چې کیدای شي، په اوږد مهاله توګه خپل پوځي ځواک ته پراختیا او د ستراتیژیکو موخو په پلي کولو سره، په سیمه بیز او نړیوال ځواک بدل شي. موږ باید خپله ستراتیژۍ اوس دې ته متمرکزه کړو، څو د دې ډول احتمالي سیالانو له رامنځته کیدو څخه مخنیوي وکړو" [۱۵].

دا ډول غوښتنه له دې وروسته لکه د سرې کربښي په څير د نوو محافظه کارانو په ليکونو کې تر سترگو کيږي. يو بله څيرنه [۱۶]، چې له ولفوويڅ او لبيی سربيره د اوسني حکومت يو شمېر غړو د هغه په چمتو کولو کې برخه لرله، په دې ټينگار کوي، چې دغه موخه د متحدو ايالتونو د بهرني سياست بنسټيزه کرښلاره ده او د شرايطو د تحميلولو سياست د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر له يوولسمې مخکې د دغه هيواد دسياست د ستراتيژيکې موخې په توگه طرحه شوې و او په همدې لاسوند کې د هغې د ترلاسه کولو له پاره پوځي دندې هم روښانه شوې دي. د نوي محافظه کارانو د اولويتونو له مخې، د متحدو ايالتونو د ملی امنيت د ستراتيژۍ NSS مهمه دنده د دغه هيواد له لاربنود دريځ څخه ساتنه ده. "ولسمشر [بايد] په پام کې ولرى، هيڅ يوه بهرنى ځواک ته اجازه ور نه کړي، هغه ستره برترۍ، چې متحدو ايالتونو له سړې جگړې وروسته پر هغې برياليي شوي، ترلاسه کړي" [۱۷]. د لاسوند پاتې برخه تر ټولو دمخه په دې اړه ده، چې دغه موخه په څه ډول ترلاسه شي او روښانه کوي، چې د دغې اړينې اقتصادي - پوځي برترۍ پراختيا څنگه د عمل په ډگر کې پلې کيدی شي.

دغو موخو ته د متحدو ايالتونو د سيمه ييزو قوماندانيو په نوي جوړښت کې، چې ۲۰۰۲ کال د اکتوبر په مياشت کې رامنځته شو، هم پام نيول شوي دئ: "د تاريخ په بهير کې د لومړی ځل له پاره د نړی هيڅ يوه برخه، ان په سويلی قطب کې هم نشته، چې د متحدو ايالتونو د سيمه ييزې قوماندانی تر قومندې لاندې نه وي. همدا واقعيت د دې ښکارندوی دئ، چې واشنگټن له سړې جگړې وروسته ځان د نړی د يوازينی پاتی شوی ځواک په توگه گڼي" [۱۸]. د متحدو ايالتونو د دفاع په خاطر د لومړی ځل له پاره په شمال کې يوه قوماندانې پرانيستل شوه. روسيه د اروپا د قوماندانې په چوکات کې تنظيم او سويلی قطب د آرام سمندر تر قومندې لاندې راغی. تر ټولو مهم نويوالي د عملياتو د قومندې او ستراتيژيکې قوماندانې په يو ځای کولو کې انعکاس مومي."ټول دفاعي عمليات بايد د همدغې قوماندانې په اډانه کې هماهنگ، تر سره او په عين وخت کې د متعارفو او هستي وسلو دفاعي يرغلونه پلان کړي شي. تر ټولو مهم دا چې د دفاع له پاره د پوځي دفاعي لاسوهنو شونتيا رامنځته شي. يا په بله وينا، دا د مخکې له مخکې يرغل په مانا ده" [۱۹]. په دې توگه د اتمې وسلې جگړه، چې طرحه يې له پخوا څخه شوې وه او له پټو اسرارو کنټل کيده، اوس په ښکاره توگه پلې کيدی شي.

له کومه ځايه چې د دغې پوځي برترۍ ساتنه د زيات لگښت غوښتونکې ده، نو ځکه د متحدو ايالتونو پوځي بودجې په حيرانونکې توگه زياتوالې موندلي دئ او ښايي د دغه هيواد پوځي بودجه، چې په اوسمهال ۴۰۰ ميليارده ډالره ده، په ۲۰۰۷ کې د هغې کچه ۶۵۰ ميلياردو ډالرو ته لوړه شي. په عين وخت کې د بوش دکترين ځانته د قانونی بنې د ورکولو او همدارنگه له دغه پوځي ځواک څخه د گټې اخيستلو له پاره د ټولواک د ترلاسه کولو په هڅه او هاند کې دئ.

د نړۍ د سترو هيوادونو پوځي لگښت
شمېرنې په ميليارد ډالرو

| | |
|---|---|
| متحده ايالتونه | ۳۹۶ |
| د متحدو ايالتونو ټلواله | ۱۹۸ |
| روسيه | ۶۵ |
| چين | ۴۷ |
| ياغي دولتونه | ۱۶ |

د متحدو ايالتونو دغه لگښت په ۲۰۰۴ کال کې و او د نورو دولتونو لگښت په ۲۰۰۲ کال کې و.

## اخځ:

Claudia Haydt/ Tobias Pflüger/ Jürgen Wagner:
Globalisierung und Krieg, Hamburg, 2003